# په جماعت سره د يو سړي لمونځ د کور او بازار د لمانځه په پرتله څه د پاسه شل درجې لوړې دي

له أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «په جماعت سره د يو سړي لمونځ د کور او بازار د لمانځه په پرتله څه د پاسه شل درجې لوړې دي، دا ځکه چې که له دوی څخه يو څوک ښايسته اودس وکړي. بيا جومات ته راشي او يوازې لمونځ يې جومات ته راباسي، له لمانځه پرته بله اراده نه لري، نو هيڅ قدم نه اخلي مګر دا چې يوه درجه يې پرې لوړيږی او يوه ګناه يې ترې توييږي، تر دې چې جومات ته ننوځي، نو کله چې جومات ته ننوځي دی په لمانځه کې دی، ځکه چې يوازې لمونځ ايسار کړی دی، او ستاسو څخه پر يو تر هغه وخته پورې ملايکې درود وايي چې دی په هغه ناسته کې وي چې لمونځ يې په کې کړی دی، وايې: ای الله رحم پرې وکړه، ای الله بښنه ورته وکړه، ای الله توبه يې قبوله کړه، تر څو يې چې اودس خراب شوی نه وي او داسې کار يې نه وي وکړي چې خلک او ملايکې پرې ازاريږي».
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې مسلمان کله په جماعت سره لمونځ وکړي، نو هغه لمونځ يې په کور يا بازار کې د لمانځه څخه څه د پاسه شل ځلې غوره دی. بيا يې د دې لامل بيان کړ، هغه دا چې يو سړی کله اودس وکړي؛ بشپړ او ښايسته اودس وکړي، بيا جومات ته ووځي، د لمانځه پرته يې بل څه نه راوباسي، نو هيڅ قدم نه اخلي مګر دا چې يوه مرتبه او درجه يې پرې لوړيږي او يوه ګناه ترې لرې کيږي. نو کله چې جومات ته ننوځي او د لمانځه په انتظار کې کېني، نو د لمانځه اجر او ثواب ورکول کيږي تر څو چې دی د لمانځه انتظار باسي، او ملايکې ورته تر هغه دعا کوي چې د لمانځه په ځای کې ناست وي، وايي: "اللهم اغفر له، اللهم ارحمه، اللهم تُبْ عليه" "ای الله بښنه ورته وکړه، ای الله رحم پرې وکړه، ای الله توبه يې قبوله کړه" تر هغه ورته دا دعا کوي تر څو يې چې اودس نه وي مات کړی يا يې داسې کوم کار نه وي کړی چې خلک او يا ملايکې پرې ازاريږي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee